مطبوعاتی وينا

## اروپايي ټولنه په افغانستان کی د ټولټاکنون د څارني په خپل ماموريت پيل کوي.

### کابل، د جولای ۱۳، کال ۲۰۰۹

اروپايي ټولني نن په رسمي توګه په افغانستان کی د ټولټاکنو د څارني په ماموريت پيل وکړ تر څو د جمهوري رياست د مقام او ولايتي شوراګانو د ټولټاکنو څارنه وکړي چې د ۲۰۰۹ کال د اګست د مياشتی په ۲۰ نېټه او وروستيو دورو کی به ترسره شي. اروپايي ټولنه د افغانستان د دولت لخوا را وغوښتل شوه تر څو د ټولټاکنو د ټولو اړخونو څارنه وکړي او د نړی والو معيارونو او کورنيو قوانيو سره سم يی و ارزوي.

د افغانستان د ټولټاکنو لپاره د اروپايي اتحاديي د ماموريت لارښوونه، د څارني د رييس ښاغلي جنرال فيليپ موغيون لخوا کيږي. فيليپ موغيون وويل: "موږ ډير خوښ يو چې دلته و اوسو او د افغانستان له خلګو سره پدې سختو شرايطو کی مرسته وکړو چې ددې هيواد د پرمختګ پر لوري اغيزناک ګامونه پورته کوي." نوموړي زياته کړه: "موږ هغه ننګوني چې ددې ټولټاکنو پر لاري پرتې دي وينو او هيله لرو چې زموږ منصفانه او بې پرې ارزونه به ددې ولسواکه، مشروع او د باور وړ ټولټاکنو له ټينګښت سره چې افغانان يی وړ دي مرسته وکړي."

دا ماموريت له ۲۵ هيوادونو څخه ۶۷ ارزوونکي او څارونکی لري چې افغانستان ته را ليږل شوی دي. ددوی شميره به د لنډې مودې په ۵۰ څارونکيو باندې بشپړه شي چې د انتخاباتو د ورځې شاوخوا به را وليږل شي تر د رايو د ورکولو او د هغوی د شمېر څارنه وکړي. سيمه ييز کارکوونکي به د فعاليت په اتو مرکزونو کی ځای په ځای شي او د افغانستان په ډيری ۳۴ ولايتونو کې به د ټاکنيزو هلوځلو څارنه وکړي. د افغانستان د ټولټاکنو لپاره د اروپايي ټولني د څارني ماموريت به يوه ۲۰۰ کسيزه کلکه ډله وي چې له خپلو افغانو کارکوونکيو سره به په ګډه کار وکړي.

ارزوونکي او څارونکي به د هغو لارو چارو په کارولو سره چې له نړیوالو معيارونو سره سم را منځته شوی دي د ټاکنيز کمپاين، د رای ورکولو د ورځې، د ټاکنيزو هلوځلو او د هغو د پايلو د خپرولو چې په هغه کې به د شکايتونو او استيناف بهير هم شامل وی ارزونه وکړي. هغوی به همدارنګه په ټوليز ډول د ټولټاکنو د سياسي څرنګوالي، د قانون د پولو، انتخاباتي ادارې، د رسنيو د چاپيريال او د مدني ټولني د کردار، د ټولټاکنو د لامل په توګه د بشري حقونو د حالت او په ټولټاکنو کې د مېرمنو او نورو لړکيو د ګډون ارزونه وکړي.

د افغانستان د ټولټاکنو لپاره د اروپايي ټولني د څارني ماموريت به له ملي او بين المللي وګړيو سره مشوره وکړي تر څو د دې ټول بهير په هکله مالومات، آندونه او انديښني را ټولي کړي.

د څارني مشر وويل: "موږ سترګي په لار يو چې د افغانستان له دولت، ادارو او مدني ټولني او پر دې سربېره نړی والي ټولني سره په ګډه کار وکړو په داسي حال کې چې خپل بې پرې والی او ازادي به په ټولو حالاتو کی وساتو." هغه زياته کړه: "موږ د ټولټاکنو لپاره را و بلل شوو چې بايد په يوه سوله ييز او رنه چاپيريال او دواړو لوريو (ټاکل شوي بهير او د افغانستان خلګو) ته په درناوي سره تر سره شي تر څو وکړای شي چې په خپل خوښه خپل چارواکي غوره کړي."

د افغانستان د ټولټاکنو لپاره د اروپايي ټولني ماموريت به خپله لومړنی وينا د ټولټاکني له ورځي وروسته خپره کړي. او خپل وروستنی بشپړ راپور به په وروستيو دورو کې خپور کړي چې په هغه کې به وروستی لاسته راوړني او همدارنګه د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټولټاکنو لپاره وړانديزونه شامل وي.

د ايډيټورانو لپاره يادښت:

اروپايي ټولني له کال ۲۰۰۰ څخه را وروسته د نړۍ په ۵۰ هيوادونو کی تر ۷۰ ډيرد څارني ماموريتونه ترسره کړي دي چې په ۲۰۰۵ کال کې د افغانستان د پارلماني او ولايتي شوراګانو ټولټاکني او په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان د جمهوری رياست د مقام د ټولټاکنو تخنيکي مرستي هم پکې شاملي دي.

اروپايي کميسيون د افغانستان له دولت او د ټولټاکنو له خپلواک کمسيون سره يو يادښت لاسليک کړی دی چې د ټولټاکنو ټولو مرکزونو او د هغه اړوند نورو برخو ته د څارونکيو د تګ او راتګ، او ټولو اړوند ادارو ته د رسمي کارکوونکيو د لاسرسی ضمانت کوي.

د افغانستان د ټولټاکنو لپاره د اروپايي ټولني د څارني ماموريت د ټولټاکنو د نړۍ والي څارني د معيارونو له اعلاميي سره سم چلند کوي چې په ۲۰۰۵ کال کې د ټولټاکنو د څارني د نړۍ والو کارکوونکيو لخوا په نيويارک لاسليک شوه. نوموړی اعلاميه د افغانستان د ټولټاکنو لپاره د اروپايي ټولني د څارني د ماموريت غړي خورا بې پرېتوب، حقبينی او شفافيت ته ژمن کوي.

هيله ده چې د مطبوعاتي پوښتنو لپاره له لاندې کسانو سره اړيکه ټينګه کړئ!

د افغانستان د ټولټاکنو لپاره د اروپايي ټولني د څارني د ماموريت مطبوعاتي چارواکي:

## سندرا کادوری:

د اړيکي شميره: ۰۰۹۳(۰)۷۰۶۲۲۱۳۶۳
برېښناليک: sandra.khadhouri@eueom-afghanistan.org

## اګنيس دوکا:

د اړيکي شميره: ۰۰۹۳(۰)۷۰۶۲۲۱۳۶۴
برېښناليک: agnes.doka@eueom-afghanistan.org

ويب پانه: www.eueom-afghanistan.org